پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۱/۱۲/۱۵

# یوخوب اویوتریخ واقعیت

پرافغانستان باندې داسې توپان راغلی دی چې دنوح توپان خوشې یوباد ورته ښکاریږي. باد، تونده سیلۍ، توپان، بم، راکټ، بمابرې، چاودنه، وژنه، ورانول، سوځول، وژل، تښتول، ډارول، کړول او ... په افغانستان کې ورځنۍ عادي چارې دي. اوس افغانستان یوسل کلن زاړه موټرته ورته دی، او بخت یې دومره خواردی، چې د حامد کرزي په نامه یو ډریور ورته ګومارل شوی دی چې دوه جا لبې او د پام وړځانګړنې لري:

۱ ــ له موټرنه هم زوړ اوکپړی دی.

۲ ــ یوزروځلورسوه کاله مخکې زمانه کې ژوند کوي.

د دې زاړه موټر دا هوښیار او زیرک ډریورغواړي دا بې وزلی موټر د یوزروځلورسوه کاله پخواني قانون له مخې وچلوي. شاوخوا ته یې داسې زمریان، پړانګان، لیوان، ګیدړان او ډول ډول ښاروي راټول شوي دي چې ډیرځلې د ده له سترګوهم نه ډاریږي.هغوی هم د ډریورد نظر وړقوانینو په چوکاټ کې ژوند کوي، یوازې په دې توپیرچې د اوسني وخت د تمدن او پرمختللې تکنالوژۍ له ټولو امکاناتو نه ګټه او چټوي او هرهغه څه یې چې زړه غواړي، د بوش ډوله دیموکراسی تربیرغ لاندې یې ترسره کوي. چیرې داسې سترګو راوزړه ورچې مخې ته یې ودریږي، ورتهووایې چې:

څه کې کاکا!

ولې؟

او د څه له پاره؟

که چیرې کوم پروطن او خلکوباندې زړه سواندی یې مخې ته و دریږي او دپوښتنې په نامه خوله ورته خلاصه کړې، نو د زمریانو او پړانګانو د کاروان د لارویانو په جیبونوکې د کمونست او طالب ټاپې پرتې دي او سمدلاسه یې ورته په تندي او کوناتې نښلوي، بیادې نو پرخلکو او وطن باندې زړه سواندې له ټاپو سره ګرځي.

د زاړه موټرډریورخلیفه کرزی لګیا دی هره ورځ تیروتنې کوي، پخوا یې په لاسونوخوړل، اوس یې سمې کاچوغې ورته بندې کړې دي او په دواړو زامویې خوري. د هرې ورځې رنګارنګ تیروتنې یې لړ په خبره یوه خلک داسې زوروي، لکه د چا په بربند وجود چې دسرې وسپنې داغ کینبودل شي.

پاکستان هره ورځ دمرګ استازې ورلیږي، دی وایې: پاکستان زموږ وروږ هیواد دی، که امریکا یا هند حمله پرې وکړي، موږ یې په خوا کې ولاړیو.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ایراني اخوندان لګیا دي بیخ او ریښه یې وچوي، تیل ورشیندي او اور ورلګوي، دی وایي: ایران جګر ګوشه ای ماست.

ډیربه لرې نه ځم، څو ورځې مخکې یې ښه لوی پټی خوش بویه او رنګه ګلان وکرل، وې فرمایل: دوه پاسپورته خلک په اداري فساد لړلي دي او ... که پوښتنه ځینې وشي چې دا خلک چا راوستل؟ د چا په امضا مقررشول؟ قرار دادونه او واک چا ورکړل او ... بیا نوچیرې د اوریدوغوږ. ښاغلی جمهور رییس(؟) چې سهارڅه ووایي، بیګاه ته یې هیروي. پخوا به سیاسي مشرانوچې تیر وتنې وکړې، د اخبارونود چاپ په وخت کې به بیرته سمیدلې او که به له تیروتنو سره چاپ شوې، نوپړه به د مطبعې په طباعتي تیر وتنو اچول کیده، خواوس د دپرمخ تللې تکنالوژۍ له برکته هماغه شبیه دنیا والو ته رسیږي او کله چې یې دتیروتنو بوی د میډیا له لارې جګ شي، بیانوښاغلی مشر غلی وي، کوم یومشاور یا ویاند یې وایي: ژورنالستان دولسمشرپه خبره پوه شوي نه دي او هغه یې غلته تعبیر کړې ده او ... ښاغلی مشاور یا ښاغلی ویاند هره ورځ ناست وي د ولسمشرخبروته نوې پردې او نوې کالي سکښي.

له بده مرغه په افغانستان کې د « سرزمین قهرمان پرور» تربیرغ لاندې ټول قهرمانان دي، په تیره بیا ټوپکیان او د دوی قومندانان او سروالان، له سرنه ترپایه پورې په یوډول نه په یوډول قهرمانان دي. مجسمې یې درول کیږي، په ملیونو نوپیسې یې دعکسونه په چاپولو باندې لګیږي او بیا د قهرمان په نامه دښارونو د دیوالونو پراوړو باندې باریږي، خو د ډیرولږو خلکوپام دې ترڅه حقیقت ته وراوړي چې ترعکسونو لاندې څه تیریږي. دقهرمانانو ترعکسونولاندې، د قهرمانانود قهرمانۍ له برکته کونډه شوې بې وزله میرمنې له خپل تې خوري ماشوم سره ناسته وي او دیوې مړۍ وچې ډوډۍ له پاره سوال کوي، سپین ږیری بوډا دخپل وژل شوي زوی د ماشومانوله پاره خیرغواړي اوکوچنیان ...

انسان چې داحا لت او داکیسې یا اوري او یا یې ګوري، لکه وچ ځوز سوځي؛ خو بیا هم د زړه د تسلا له په پاره د کوم پوه دا خبره سترګو ته دروي چې ویلي یې وو: ځینې مجسمې باید د دې له پاره ودرول شي چې خلک لاړې ورتوکړي.

لکه د چا خبره اوس خو موږ د خبرونو د اوریدو په مرض اخته شوي یو. پرون ماښام(۱۳- ۱۲- ۲۰۱۱ ) مې بیا د خبرونو د اوریدو د محکومیت په سلسله کې خبرونه اوریدل، چې یو تازه زورونکی خبرراغی: د رباني دجمیعت دډلې ځینوغړوله حامد کرزي سره په لیدنه کې له کرزي څخه ځینې غوښتنې درلودې. یوه په کې دا وه چې په کابل کې دې دښوونې اوروزنې د پوهنتون نوم واړول شي او د رباني په نامه دې ونومول شي. کرزي دخپلې هوښیارتیا په سلسله کې في المجلس دا وړاندیزمنظورکړ. سمدلاسه مې لکه د وچو ځو زانوغوندې اورواخیست او دککرۍ په کنبده کې مې دې خبرې آزانګې کولې چې:

یا پاکه ربه پوهنتونونه خوباید دپوهانو، ستروشاعرانو او مفکرینو په نامه ونومول شي، نه دقاتلینو، جاسوسانو او وطن پلورونکوپه نامه.

کله چې کرزي د رباني په نامه دیوه پوهنتون نومول ومنل، داسې مې وانګیرله چې نورنو هغه پوهنتون اور واخست او که یې ژبه درلودلای، چغې به یې کړې وای او په چغو چغوبه یې ویلي وای:


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د خدای پار دی، مرګ او پوپناه کيدل منم، خو د يوقاتل، وحشي وطنپلورخايين او جاسوس نوم مه راباندې ږدئ.

دهمدې خبردغم لړلوسوچونوله درانه پيټي سره ويده شوم چې په خوب کې دکابل پوهنتون دښوونې او روزنې دپوهنځي رييس، زما ګران دوست او ګاونډی ډاکترغلام دستګيرحضرتي خوب ته راغی. دګيلو په ترڅ کې يې راته وويل:

دا څه حا ل دي، چې په کلال دی،

نا ځواني اونا پوهي خوهم حد لري،

دښوونې اوروزنې پوهنتون ګوره او ديوه ناپوه او قاتل له نامه سره يې تړل ګوره،

زموږ دا اوسنی نسل او په دې پسې راتلونکي نسلونه به څه وايي؟

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ